پشتو

# غفلت

(پښتو)




شیخ طریقت، امیر اهلسنت، باني دعوت اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال

مُحَمَّد الیاس عطّار قادري رضوي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دُعا

دینی کتاب یا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لا ندې دعا اولولئ
اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ کوم څه چه لولئ نو هغه به مو یاد پاتې کیږی:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ**
**عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه دَ علم او دَحکمت دروازې کهولاؤ کړه او په مونږه خپل رحمت رانازل کړه! اے عظمت او بزرګئ والا!
(مستطرف ج1 ص40 دار الفکر بیروت)

(اول او آخر کښ یو یو ځل دُرود شریف اولولی)

### دَقیامت په ورځ پښیمانتیا

**فرمانِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : دَ آخرت [قیامت] په ورځ به دَ ټولو نه زیات هغه کس پښیمانه وي چا ته چه په دُنیا کښ د علم حاصلولو وخت میلاؤ شوې وو او هغه علم حاصل نه کړو او هغه کس (به هم ډیر پښیمانه وي) چه په خپله ئې علم حاصل کړې وو او دَ هغه نه نورو خلقو په اوریدلو سره فائدې اوچتې کړې وي خو ده ترې پخپله فائده حاصله نه کړه (یعني په علم ئې عمل اونه کړو)
(تاریخ دمشق لابن عساکر ج51ص138 دارالفکر بیروت)

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که دَ کتاب په طباعت کښ څه ښکاره خامي وي یا پانړې کمې وي یا په بائنډنګ کښ مخکښ وروسته لګیدلي وي نو مکتبة المَدینه ته رجوع اوکړئ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# غفلت

از : شيخ طريقت امير اهلسنت، بانئ دعوتِ اسلامي

**علامه، مولانا، ابو بلال محمد الياس عطار قادري، رضوي**

دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

**دَ ترجمې پيشکش:**

دا رساله په اردو کښې وه ، مجلس تراجم ددې رسالې په پښتو کښې ترجمه کړې ده، که چرې ددې په ترجمه کښې څه غلطي يا کمې اوموميځ ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم دَهغې نه خبردار کړئ.

**مجلس تراجم دعوتِ اسلامي**


عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگراں
پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان
UAN: ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262
Email: translation@dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مسلم)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# غفلت*

غفلت لرى كړئ او دارساله پوره اولولئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ تاسو به په خپل زړه كښې د آخرت فكرمحسوس كړئ.

## دَ دُرُود شريف فضيلت

دَ سركارِمدينه، راحتِ قلب و سينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دي: اے خلقو! بيشكه دَ قيامت په ورځ به دَ هغې دَ دهشَتونو (يعني يري) او دَ حساب كتاب نه زرخلاصي موندلو والا هغه كس وى چاچه په تاسوكښې په ماباندي په دنيا كښې په كثرت سره درود شريف وئيلي وى. (فردوس الاخبار ج5 ص375 حديث 821)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

منقول دي: يو نيك كس ته دَ څه ځائ نه دسرو زرو خښته په لاس ورغله. هغه دَ دولت په مينه كښې مست شو، ټوله شپه ئې قِسم

---

*دا بيان امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د تبليغ قرآن وسنت عالمگير غير سياسي تحريك دعوت اسلامي د دريو ورځو دسنتّو نه ډكه اجتماع كښې ۳۰ رجب ۱۴۱۸ھ كښې په احمد اباد (هند) كښې فرمائيلي وو. دَ ترميم او اضافي سره د ليك په صورت كښې حاضر دي. مجلس مكتبة المدينه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

قِسم منصوبې جوړولې چه اوس خو به ښه ښه خوراکونه کووم، ځان له به ښکلې کپړې گنډم او ډیر خادِمان به ځان له نیسم. غرض دا چه دَ مالدار جوړیدو په وجه د راحتونو او سهولتونو په خیالونو کښې ورک وو په هغه شپه دَ الله عَزَّوَجَلَّ دَ یاد نه بالکل غافله پاتې شو. سحر هم په دې خیالونو کښې ډوب دَ کوره اووتو، اِتِفاقاً دَ یوې مقبرې (یعنې ادیرې) په خوا تیریدو، څه گوری چه یو کس دَ خښتو جوړولو دَ پاره په یو قبر دَ پاسه ختې کولې، داحال ئې چه اولیدو نو یو دَم دَ هغه د سترگونه دَ غفلت پرده لرې شوه أو په دې فکر کښې دَ هغه دَ سترگو نه اوښکې روانې شوې چه شایِد دَ مرگ نه پس به خلق زما دَ قبر دَ خاورو نه هم خښتې جوړوی، آه! زماشاندارې بنگلې أو ښکلې لباسونه به زما نه دغسې پاتې شي، بیا خو دَ سرو زرو دَ خښتې سره زړه لگول سراسر په غفلت کښې ژوند بربادول دی، آو! که ماله زړه مشغولول پکار دي نو دَ خپل خوږ خوږ الله عَزَّوَجَلَّ په یاد کښې مشغولول پکار دي، غرض داچه هغه دَ سرو زرو خښته پریښوده او زُهد اوقناعت [یعنی دَ دنیا نه ډډه اوپه لږمال ئې صبر] اختیارکړو.

صَلُّوا عَلَی الحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمانِ مُصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

# دَ غفلت اسباب

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** دَ دُنيا (يعنی دَ دولت) دَ کثرت په شکل کښې ميلاويدلو والا نعمت کښې سراسر دَ غفلت يره ده، څوک چه دَ دنياوي نعمتونو سره محبت کوي هغه دَ غفلت ښکار جوړيږی، غفلت خو بيا غفلت دي، غفلت بنده دَ ربّ العزّت عَزَّوَجَلَّ نه لرې کوي. ښه تجارت هم نعمت دې، دولت هم نعمت دې، شانداره بنګله هم نعمت دې، ښه سورلۍ هم نعمت دې، دَ مور او پلار دَپاره اولاد هم نعمت دې،که هرقسم دنياوي نعمت وي په هغې کښې دَ ضرورت نه زيات مشغوليدل دَ غفلت باعِث دی. په پاره 28 سورة المنٰفِقون آيت 9 کښې ارشاد کيږی:

**يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَاۤ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓىِٕكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹﴾**

**ترجمه کنزالإيمان: اے ايمان والو! ستاسو مالونه او نه ستاسو اولاد يو شې دې تاسو دَ الله (عَزَّوَجَلَّ) دَ ذِکرنه غافله نه کړی اوکه څوک داسې اوکړی نو هم هغه خلق په نقصان کښې دی.**

د دی آيتِ مقدّسه نه هغه خلقوته عبرت حاصلول پکاردی چه هغوئ ته دَ نيکۍ دعوت ورکړې شي او دَ مانځه دپاره راؤبللې

فرمانِ مُصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاويږي۔ (مجمع الزوائد)

شي نو وائي: وروره! "مونږه دَ خپل رزق په فکرکښ لګيايو، روزي ګټل او دَ خپلو بچو خدمت کول هم عبادت دې، مونږه چه کله دَ دې نه اوزګارشو، تاسوسره به جُمات ته هم لاړشو." يقيناً داسې خبرى دَ غفلت په وجه کيږى.

## د مړى ژړيدل بې کاره دي

صرف اوصرف دَ دنيا دَ دولت زياتولو په کوشش کښ مصروف، په مال ګټلو پسې دَ دُنيا مختلِف ملکونو ته ورَک او دهکې خوړلو والا, خوجُمات (مسجد) ته دَ تلو نه ډډه کولو والا، دَ خپل کور دَ ښائِسته کولو دَ پاره پيسې دَ اوبو په شان تويولو والا، خودَ الله عَزَّوَجَلَّ په لار کښ دَ لګولو نه ډډه کولو والا، دَ دولت ډيرَولو دَپاره دَ قِسم قِسم طريقې اختيارولو والا، خوپه نيکو کښ د برکت په معامله کښ بې پرواه خلقو ته دغفلت د خوب نه رابيداريدل او فوراً توبه کول پکار دى. هسې نه چه مرګ ناڅاپه راشي او په رنړاګانو ځليدلې کوټې او دَ فوم نرم نرم ښکلي پالنګ نه ئې اوچت کړي او د چينجو نه ډک خوفناک توره تيَره قبرکښ ئې اوده کړي او هغه په چغو سر شى چه ياالله عَزَّوَجَلَّ ما بيا دُنيا ته اوليږه چه زه هلته لاړشم ستا عبادت اوکړم. مولٰى عَزَّوَجَلَّ ما بيا دنيا ته اورسوه ، زه وعده کوم خپل ټول مال به ستا په لار کښ قربان کړم ....... پنځه واره مونځونه به په جُمات

کښې د جَماعت (یعنی دجَمعې) سره په ړومبي صف کښې د تکبیر اولٰی سره کووم، تهَجد به هم نه پرېږدم، بس په جمات کښې به پروت یم ......... کیره خوکیره، زلفې به هم پرېږ دم......هر وخت به د عمامې شریفې تاج په سرکوم ......... یاالله عَزَّوَجَلَّ ما واپس اولېږه....... یو ځل بیا مهلت راکړه د دنیا نه به فیشن ختم کړم او هر طرف ته به دسنّتو جهنډه اوپړقووم...... پروردِگاره عَزَّوَجَلَّ! صرف اوصرف یو ځل مهلت راعطا کړه چه زه ډیرې نیکئ اوکړم....... شپه او ورځ د غفلت په وجه په ګناهونو کښې مشغول اوسیدو والا ته به د مرګ نه پس په غوغا کولو یقیناً هیڅ هم په لاس ورنه شي. قرآنِ مجید د مخکښې نه خبردارې ورکړې دې. په سیپاره 28 کښې د سورة المنٰفقون په 10 او11 آیت کښې ارشاد کیږی:

وَ اَنْفِقُوْا مِنْ مَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ یَّاْتِیَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَیَقُوْلَ رَبِّ لَوْ لَاۤ اَخَّرْتَنِیْۤ اِلٰۤى اَجَلٍ قَرِیْبٍ ۙ فَاَصَّدَّقَ وَ اَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۱۰﴾ وَ لَنْ یُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ؕ وَ اللّٰهُ خَبِیْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱﴾

**ترجمه کنز الإیمان:او زمونږ دَ درکړي شوي (مال) نه څه زمونږه په لاره کښې اولګوئ، مخکښې د دې نه چه په تاسو کښې په کوم یو کس مرګ راشي بیا اووائي، اے زماربّه! تا ماله د لږ وخته پورې مهلت ولې**

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئیلو هغه په خلقو کښې ډیر کنجوس(شوم) دې. (ترغیب وترهیب)

رانه کړو چه ماصدقه ورکړې وې او په نیکانو کښې (شامل شوې) ووم، اوهیڅ کله به الله (عَزَّوَجَلَّ) یو ژوندي له مهلت ور نه کړي چه کله د هغه وعده راشي او الله (عَزَّوَجَلَّ) ته ستاسو د کارونو خبر دې.

دِلا غافل نہ ہو یک دَم یہ دنیا چھوڑ جانا ہے
بَغیچے چھوڑ کر خالی زمیں اندر سمانا ہے

اے زړه ! مه غافله کیږه دا دنیا پاتي کیدونکې ده
د دنیا باغونه به درنه پاتې شي او یو ځل به په زمکه کښې خښ شې

ترا نازُک بدن بھائی جو لیٹے سَیج پھولوں پر
یہ ہو گا ایک دن بے جاں اِسے کِرموں نے کھانا ہے

اے وروه ستا دا نازک بدن چه نن په ګلونو خوبونه کوي
یوه ورځ به د دې نه ساه اوځي او د چینجو خوراك به شي

تُو اپنی موت کو مت بھول کر سامان چلنے کا
زمیں کی خاک پر سونا ہے اِینٹوں کا سِرہانا ہے

ته خپل مرګ مه هیروه او د تللو تیاري اوکړه
د زمکې په خاورو باندې به اوده ئې او سر به دِ د خاورو په بالښت وي

نہ بَیلی ہو سکے بھائی نہ بیٹا باپ تے مائی
تُو کیوں پھرتا ہے سَودائی عَمل نے کام آنا ہے

مور او پلار او ورونړه به دې خه مدد او نه کړي
ته ولې سودائي ګرځې عمل به دِ په کار راځي

کہاں ہے زورِ نَمرودی! کہاں ہے تختِ فِرعونی!
گئے سب چھوڑ یہ فانی اگر نادان دانا ہے

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شریف لولي زه به دَ قیامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

څه شو د نمرُود زور او څه شو د فرعون تخت
که څوك پوهه دي او که ناپوهه د ټولو نه دا دنیا پاتې ده

عزیزا یاد کر جس دن کہ عِزرائیل آئیں گے
نہ جاوے کوئی تیرے سَنگ اکیلا تُو نے جانا ہے

اے وروره چه په کومه ورځ عزرائیل راشي
نو ستا سره به بل هيڅ څوك نه ځي ته به يوائې ځې

جہاں کے شُغل میں شاغِل خدا کے ذِکر سے غافِل
کرے دعوٰی کہ یہ دنیا مِرا دائم ٹِھکانہ ہے

د دنیا په کارونو کښې مشغوله او د الله دَ ذکر نه غافله
ته دا دعویٰ لرې چه زه به همیشه په دې دنیا کښې اوسیږم

غُلام اِک دَم نہ کر غفلت حیاتی پر نہ ہو غُرّہ
خدا کی یاد کر ہر دم کہ جس نے کام آنا ہے

اے غلامه لږ هم مه غافله کیږه او په ژوند باندې مه نازیږه
هر وخت الله یادوه هم دا به دې په کا راځي

## عجیبه پښیماني

مُکاشَفة القُلُوب کښې دي: حضرت شیخ ابوعلی دقّاق عَلَیْہِ رَحمَۃُ اللّٰہِ الرَّازِق فرمائی: یو ډیرغټ ولی الله رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ سخت بیمار وو، زه دَ تپوس دپاره حاضرشوم، کیرچاپیره ترې دعقیدت مندوګنړه وه، هغه بزرګ رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ژړل، ماورته عرض اوکړو: اے شیخ! آیا د دنیا په پاتې کیدو پسې ژاړې؟ وې فرمائیل: نه، بلکه د مونځونو په قضا کیدو

ژاړم. ماعرض اوکړو: حضور! ستاسو مونځونه څنګه قضاشو؟ اوئې فرمائيل: ماچه کله هم سجده کړې ده نو د غفلت سره، اوچه کله مې دَسجدې نه سر راپورته کړې دې نو دَغفلت سره او اوس دَ غفلت په حالت کښې دَ مرګ غيږې له روان يم، بيا ئې يو دَ افسوس اسويلې اوکړو او څلور عربي شعرونه ئې اولوستل چه دهغې ترجمه داده: (1) ما په خپل حشر، د قيامت په ورځ او په قبر کښې د خپل مخ پريوتلو په باره کښې سوچ اوکړو (2) د دومره عزت او لوئي والي نه پس به څه يواځې پروت يم او د خپل جرم په وجه به ګانړه کيږم او خاوره به زما بالښت وی (3) ما په خپل اوګد حساب او دَ اعمال نامې دَ ميلاويدو په وخت کښې دَ خپلې رُسوائي په باره کښې هم فکر اوکړو (4) خو اے زما پيدا کولو والا اَو زما ساتلو والا! زما ستا نه دَ رحمت اُميد دې، هم ته زما خطاګانې معاف کوونکې ئې.
(مکاشفة القلوب ص22)

## په ژړا ژړا به دوزخ ته داخليږی

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! په دې حکايت کښې څومره عبرت دې. لږ د الله عَزَّوَجَلَّ نيک بندګانو ته اوګورئ چه هر ساعت ئې د الله عَزَّوَجَلَّ په ياد کښې تيريږی اوبيا هم د دوئ د عاجزئ داعالَم دې چه خپل عبادتونه او رياضتونه په هيڅ کښې نه شماری او د الله عَزَّوَجَلَّ

د بې نيازئ او دَ پټ تدبير نه يريږي اَوزاري فرياد کوي. هغه خلق چه په غفلت کښې پراته دي، په هغوئ باندي په کروړونو افسوس، چه دَ نيکئ دَ نون ټکي ته هم نه رسي، دَ اخلاص ئې د لرې لرې پورې څه پته نه وي خو حال ئې دادې چه د خپلو عبادتونو کولو په اوچتو اوچتو دعوو نه ستړې کيږي! د الله عَزَّوَجَلَّ نيک بندګان ځان د ګناهونو نه په حفاظت کښې د ساتلو باوجود دَ الله عَزَّوَجَلَّ دَ يرې نه ژړيږي، رپيږي، اوښکې تويوي، خوپه غفلت کښې دَ پريوَتو خلقو داحال دې چه په بې پروائې سره ګناهونه کوي، دخپلو ګناهونو قِصې کوي، دَ پاسه پرې په زوره زوره خندا کوي اولږه ملامتيا پرې نه ښکاره کوي، په غورسره واورئ! حضرتِ سيّدنا ابن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائي: چه څوک په خندا خندا ګناه کوي هغه به په ژړا ژړا جهنم (يعنی دوزخ) ته داخليږي. (مكاشفةُ القلوب ص275)

## که چرِي ايمان هم برباد شونوبيا.....

په خندا خندا دروغ وئيلو والا، په خندا خندا وعده خلافي کولو والا، په خندا خندا ملاوټ والا مال خرڅولو والا، په خندا خندا فلمونه او ډرامې کتلو والا اوسازونه، سندرې اوريدلو والا، په خندا خندا مسلمانان تنګولو والا او دَ شريعت دَ اجازت نه بغير دَ هغوئ زړونه اَزارَوَلو والؤ دَپاره دَ فکر او سوچ مقام دې، که الله عَزَّوَجَلَّ ناراضه

فرمانِ مُصطفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله درود شريف اولوستل دهغه د دوه سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (كنزالعمال)

شو او د هغه خوږ حبيب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خفه شو او دَ غفلت په سبب، په زړورتيا سره، په خندا خندا د ګناهونو کولو په وجه مو که ايمان برباد شو او جهنّم مو مقدّر جوړ شو نو څه به کيږی! لږ د زړه په غوږو د خدائے رحمٰن عَزَّوَجَلَّ فرمانِ عبرت نشان واورئ! په لسمه سيپاره کښې د سورة التوبة په آيت 82 کښې ارشاد شوي دي:

فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا ۚ

**ترجمه کنزالإيمان:نو هغوئ له پکاردي چه لږخاندي او ډير ژاړي.**

## دَمرګ درې قاصدان

منقول دي: دَ حضرت سيدنا يعقوب عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام او دَملک الموت حضرت سيدنا عزرائيل عَلَيْهِ السَّلَام دوستانه وه. يوپيره چه ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام راغلو نو حضرت سيّدنا يعقوب عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام ترې تپوس اوکړو چه تاسو دَ ملاقات دَ پاره تشريف راوړو يا زما دَ روح قبض کولو (يعنی دَ ساه اغِستلو) دپاره؟ وئيل: د ملاقات دپاره. حضرت سيّدنا يعقوب عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام اوفرمائيل: زما د وفات نه مخکښې ماله يو څو قاصدان رااوليږه. ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام اووئيل: څه به تاسوله دوه يا درې قاصدان را اوليږم. بياچه کله ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام د روح اغستلو د پاره حاضرشو نو

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله درود شريف اولوستل دهغه د دوه سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کنزالعمال)

حضرت سيدنا يعقوب عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام ورته او فرمائيل: تاسو ماته زما د وفات نه مخکښ د قاصدانو د راليګلو وئيلی ؤو د هغې څه او شو؟ حضرت سيدنا ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام اووئيل: د تورو ويښتو نه پس د سپينو ويښتو راتلل، دبدن د طاقت نه پس کمزوری او د نيغې ملانه پس د ملا کږيدل، اے يعقوب (عَلَیْہِ السَّلَام) دا د مرګ نه مخکښ د انسان طرف ته زما قاصدان دی. دَ يو عربي شاعر دا دوه شعرونه خومره عبرتناك دي

مَضَى الدَّهْرُ وَالْاَيَّامُ وَالذَّنْبُ حَاصِلٌ وَجَآءَ رَسُوْلُ الْمَوْتِ وَالْقَلْبُ غَافِلٌ

نَعِيْمُكَ فِي الدُّنْيَا غُرُوْرٌ وَّحَسْرَةٌ وَعَيْشُكَ فِي الدُّنْيَا مُحَالٌ وَّبَاطِلٌ

دشعرونو ترجمه: (۱) وخت او ورځې تيرې شوې خوګناهونه باقی دی، د مرګ فريښته را اورسيده ا وزړونه غافِل دی (۲) تاته په دنيا کښ مِيلاويدونکي نعمتونه دهوکه اوستا د پاره د حسرت (پريشانئ) سبب دي، او په دنياکښ دائِمی يعنی د هميشه باقی پاتی کيدونکو مزو حاصلولو خيال غلط دې. (ايضاً ص22)

## بيماری هم دَ مرګ قاصددې

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! معلومه شوه چه دَ مرګ نه مخکښ مَلک الموت عَلَیْہِ السَّلَام خپل قاصدان راليږی. دَ بيان کړې شوي

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره درود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

درې قاصدانو نه علاوه په حديثونو کښې دَ نورو قاصدانو ذِکر هم ميلاويږي. ځکه چه مَرَض، د غوږونو او سترګو فرق ﴿يعنی مخکښې نظرښه او بيا کمزوريدل او دَ اوريدو طاقت دَ بهترئ نه پس کنړيدل﴾ هم دَ مرګ قاصدان دي. په مونږ کښې به ډير داسې خلق وی چه هغوئ له به دَ ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام قاصدانو تشريف راوړې وی خوځه به وائې د دې غفلت! که تور ويښته په سپينِيدو راشی نو دا دَ مرګ قاصد دې خو بنده دَخپل زړه دَ تسلئ دَپاره وائې چه داخو دَ نزلې [يعنې د يخنئ وهلو] په وجه زما ويښته سپين شوي دي! هم دغسې بيماری چه دَ مرګ ښکاره قاصد دې خو په دی کښې هم سراسر دَ غفلت نه کار اغستې شی حالانکه د بيمارئ په وجه هره ورځ بې شماره خلق دَ مرګ ښکار جوړيږی! مريض ته خو ډير زيات د مرګ يادول پکار دی ځکه چه څه پته ده کومه بيماری چه په ظاهره معمولی ښکاری هم دا زياته شی او د سترګی په رپ کښې مې دَ مرګ کندې ته کوز کړی بس بيا به خپل خپلوان ژاړی، دښمنان به خوشحالي کوی او د مرګ نه غافله مريض به دَ مَنُونُو خاورو نه لاندې توره تياره قبر ته کوز کړې شی! آه اوس به دا مړې وی او د ده ښه اوبد عمل به وی.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ درود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (ابو يعلیٰ)

## د جهنّم په دروازه باندِ نوم

اے د نن محترمو او د صبا مرحومانو! ياد ساتئ! څوک چه په ګناهونو کښې پروت اوسی هغه لا رخطا کړه، د غفلتونو او د بې عملئ په تيرو کښې ورک شو اوکه دَ خدائ عَزَّوَجَلَّ او د مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ ناراضګئ په صورت کښې د قبر او دَ آخرت په عذاب کښې ګيرشو، بيا به په پښيمانئ او سر زمکې ته د وهلو نه هيڅ په لاس را نه شي، اوس هم موقع ده زر زر دګناهونو نه په صِدق سره توبه اوکړئ، د مونځونو کولو دَ رمضان المبارک دَ روژو نيولو او د سنّتو نه ډک ژوند تيرولو وعده اوکړئ. واورئ! واورئ! د سرکارِمدينه راحتِ قلب و سينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ عبرت نه ډک فرمان دې: څوک چه يو مونځ قصداً قضا کړی، دَ هغه نوم دَ جهنّم په هغه دروازه اوليکلې شي په کومه چه به هغه جهنّم ته داخليږی. (حِليةُ الاولياء ج7 ص299 حديث1059) هم دغه رنګ په يو حديثِ پاک کښې ارشاد دې: څوک چه دَ رمضان المبارک دَ مياشتې يوه روژه دَ شرعی عُذر او مرض نه بغير قضا کړي د ټولې زمانې روژې دَ هغې قضا نه شي کيدې حالانکه که وروسته ئې اونيسي. (ترمِذی ج2 ص175 حديث723)

## په سترګوکښې اور

نامحرمو ښځو ته کتلو والا، امردو ﴿ښکلي بې ګيرې هلکانو﴾

فرمانِ مُصطفٰےﷺ: چاچه په ما باندې لس ځله درود پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طبراني)

سره بد نظرى كولو والا، فلمونه او ډرامې كتلو والا، سندرې، سازونه او غيبتونه اوريدلو والؤ ته په كار دي چه سمدست توبه اوكړي ګنې يقيناً عذاب به برداشت نه كړې شى، منقول دي: چه څوك خپلې ستركې دَ حرامو كتلو نه ډكوي دَ قيامت په ورځ به دَ هغه ستركې د اور نه ډكې كړې شي. (مُكاشَفةُ القُلُوب ص 10)

## د اور سلائي

حضرتِ علّامه ابوالفَرَج عبدالرَّحمٰن بن جوزى عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْقَوِي نه منقول دي: دَ زنانه خائست ته كتل دَ ابليس په زهرو كښ ساړه كړى تِيرونو كښ يو تِير دې، چا چه د نامحرمو نه دَ ستركې حفاظت اونه كړو دَ هغه په ستركه كښ به دَ قيامت په ورځ دَ اور سلائي وهلې شي. (بَحْرُ الدُّمُوع ص171)

## په ستركواوغوږونوكښ ميخونه

حضرت سيّدنا امام حافظ ابو القاسِم سُليمانى طَبَرانى قُدِّسَ سِرُّهُ النُّوْرَانِي نقل كوى: زما خوږ خوږ آقا ﷺ يو منظر دا هم اوليدو چه دَ څه خلقو په ستركو او غوږونو كښ ميخونه ټك وهلې شوي دي. دَ خوږ آقا ﷺ په خدمت كښ عرض اوكړې شو: دا هغه خلق دى چه دوئ هغه څه ګورى چه دوئ ته دَ هغې كتل نه دي پكار، او هغه څه اَورى چه دوئ له هغه اوريدل نه دى پكار.

(اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیر لِلطَّبَرانی ج8 ص156 حدیث7666) یعنی دَ حرام کتلو او اوریدلو والؤ په سترګو او غوږونو کښ میخونه ټک وهلي شوي دي. خبردار! دَ شیطان په دهوکه په تې وی باندې خبرونه هم مه ګورئ ځکه چه خبرونه د بې پرده ښځې نه خالي ساتل مشکل وی. یادساتئ! که نارینه ښځو ته اوګوری او که ښځې نارینو ته په شهوت سره اوګوری دا دواړه کارونه حرام دی اوهر حرام کار جهنم ته بوتللو والا دې. وَالعِیَاذُ بِاللّٰہِ تَعَالٰی

## په سترګوکښ وِیلي کړې شوې سیکه

منقول دی: څوک چه په شهوت سره د نامحرمه [یعنې د چا سره چه د همیشه دپاره نکاح حرامه نه وي د داسې] ښځې حسن او جمال (یعنی ښائِست) ته اوګوری دَ قیامت په ورځ به دَ هغه په سترګو کښ وِیلي کړې شوې سیکه اچولې شي. (هدایه ج2 ص368)

یقیناً ورندار هم نامحرمه ښځه ده، که کوم لیور خپلې ورندار ته قصداً (یعنی دَ کتلو په اراده) کتلي وي، ازادي ئې ورسره ساتلې وي، ټوقې ټقالې ئې ورسره کړې وي، هغه دې دَ الله عَزَّوَجَلَّ دَ عذاب نه او یریږی او دَ فوراً نه دِ هم مخکښ ﴿یعنی ډیر زر دي﴾ په رښتیا سره توبه اوکړي. ورندار که کشر لیور ته کشر ورور او مشر لیور ته مشر ورور اووائي نو د دې په وجه ورسره بې پردګي او ازادي نه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

جائِز کیږي [بلکه د دې په وجه] لیور او ورندار په بدنظرئ، په خپل مینځ کښ د ازادئ، خندا او ټوقو ټقالو وغیره ګناهونو کښ نور هم اخته کیږي. یاد ساتئ! د لیور او دَ ورندار په خپل مینځ کښ بې ضرورته او په ازادئ سره خبرې کول هم مسلسل دَ خطرې خبره ده! خیر ئې په دې کښ دې چه نه یو بل ته ګوری او نه دِ دَ یو بل سره بې ضرورته او نه په ازادئ سره خبرې اَترې کوي.

دیکھنا ہے تو مدینہ دیکھئے
قصر شاہی کا نظارہ کچھ نہیں
که ګورئ نومدینه اوګورئ
د شاهی محل لیدل هیڅ خیز نه دې

صَلُّوا عَلَی الحَبِیب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

لیور او ورندار وغیره دې خبردار اوسي چه په حدیث شریف کښ ارشاد دې: اَلْعَيْنَانِ تَزْنِيَانِ یعنی ستر ګې زِنا کوي. (مسندامام احمد ج3 ص 305حدیث 8852)

بهرحال که په یو کور کښ د اوسیدو په وجه دَخپلو نیزدې نا مَحْرَمو نه پرده مشکله وي نو دَ مخ ښکاره کولو اجازت شته خو چه کپړې (جامې) په هیڅ شان داسې نرئ نه وي چه بدن یا دَ سر ویښته وغیره پکښ ښکاري یا جامې داسې تنګې نه وی چه دَ بدن دَ

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درود پاك اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

اندامونو هيئت (يعنى غټ والې) او دَ سينې اوچت والې پكښې معلوميږى.

## د اور عبادت كوونكو په شان مخ

**خوږو خوږو اسلامى ورونړو!** ګيره خرَول يا دَ يو موټى نه كمول دواړه كارونه حرام دي. سيدنا امام مسلم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه منقول دي، دَ الله عَزَّوَجَلَّ د محبوب، دانائےغيوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان عبرت نشان دې:بريتونه ښه واړه كړئ اوګيرو له معافى وركړئ (يعنى غټيدو ته ئې پريږدئ) او دَ مجوسيانو (يعنې دَ اور دَ عبادت كوونكو) په شان شكلونه مه جوړوئ. (مسلم ص154 حديث 260) په دى فرمانِ مبارك كښې مسلمانانو ته غيرت وركولې شى چه، داڅنګه عجيبه خبره ده چه دعوٰى دَ خوږ مصطفٰى صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ محبت كوي او شكل و صورت دَ مصطفٰى صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ دُښمنانو په شان جوړوى.

سرکار کا عاشق بھی کیا داڑھی منڈاتا ہے؟
کیوں عشق کا چہرے سے اظہار نہیں ہوتا؟

آيا د حضور عاشق به هم ګنې ګيره خروي
ولې د ده په مخ دَعشق نښه نه ښكاري

صَلُّوا عَلَى الحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## څوک دِ د چا نه پرده کوی؟

په پرده کښې ناستې زما بيان اوريدونکو اسلامی خويندو! تاسو هم واورئ! بې پردګی حرامه ده، غيرو نارينؤ ته په شهوت سره کتل حرام دي، او هر حرام فعل جهنم ته بوتللو والاکار دې. دَ تره دَ ځوئ، دَ ترور دَ ځوئ او دَ ماما دَ ځوئ نه پرده ده، دَچاچی او دَ مامي نه هم پرده ده. دَ ورندار او دَ ليور پرده ده، دَ اوښی نه پرده ده، تردې چه دَ نامحرم پير او دَ مريدي هم پرده ده، مريده دَخپل پير صاحب لاس نه شی ښکولولې، په خپل سر د پير لاس نه شی راښکلې، جينئ چه دَ نهه کالو شي نو په هغې پرده کول شروع کړئ او هلک چه کله د دولسو کالو شی نو دَ ښځو نه ئې لرې ساتئ۔

## د ناجائِزه فيشن کوونکو انجام

سرکارِمدينه، راحتِ قلب و سينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: (دَمعراج په شپه) ماځه سړی اوليدل چه دَهغوئ څرمنې دَ اور په قينچو پرې کولې شوې، ما اووئيل: داڅوک دی؟ جبرئيل امين عَلَیْہِ السَّلَام اووئيل: دې خلقو به په ناجائِزه څيزونو ځان ښائسته کولو. اوما يوه بدبوداره کنده اوليدله چه په هغې کښې شور او غوغا وه، ما او وئيل: داڅوک دي؟ نو وئيل ئې: دا هغه ښځې دي چه په ناجائِزه څيزونو به ئې ځان ښائسته کولو. (تاريخ بغداد ج 1 ص 415)

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه۔ (عبدالرزاق)

**یاد ساتَئ** ! دَ ناخن پالش (یعنی دَ نوکانو پالش) پاترې په نوکانو باندې نښلی [یعنی اوبه ترې نه اوځی]، په داسې حالت کښې نه په اودس کولو اودس کیږي اونه په غسل کولو غسل. اوچه اودس اوغسل صحیح نه وي نو مونځ هم نه کیږي، دَاسلامی خویندو په خدمت کښې زما مدني مشوره ده چه مدني بُرقَع په سرکوئ، او داسې دَستانې او جُرابې اَچوئ چه په هغې کښې دَ لاس او ښپو رنګ نه ځلیږی، دَغیرو نارینؤ (یعنی دچانه چه پرده وي) په مخکښې دَلاسونو تلې او دَ ښپو پنجې هیڅ کله مه ښکاره کوئ.

## قضاعُمری اوکړئ

خدانخواسته که چرې مونځ، روژې درنه پاتې شوې وي نو دَ هغې حساب اولګوئ او قضاعمرې ئې اوکړئ، او دَ پاتې کیدلو توبه هم اوکړئ، دَ مانځه دَقضا عُمرئ اسانه طریقه معلومولو دَپاره د دعوتِ اسلامی د اشاعتې ادارې مکتبةُ المَدینه چاپ شوې کتاب "**نمازکےاحکام**" هَدیَةً واخلئ. په هغې کښې د اودس، غسل، مانځه او قضاعُمرئ هغه اهم ترین احکام بیان کړې شوي دي، چه هغه تاسو اولولئ نوکیدې شی چه تاسو پخپله اووایئ چه افسوس! تراوسه دَ اودس، مانځه او دَ غسل صحیح اداکولو نه محرومه پاتې شوې یم!

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو هغه په خلقو کښې ډير کنجوس(شوم) دې. (ترغيب وترهيب)

## اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ

اوس ټول اسلامی ورونړه د زړه په پخه اراده سره لاسونه اوچت کړئ او دَ اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ دَ اوچتو نعرو په ذريعه دَ خپلو مدنی جذباتو اظهار اوکړئ. نيّتونه اوکړئ چه، نور به زما يو مونځ هم نه قضا کيږی اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ ، دَرمضان المُبارک يوه روژه به هم رانه نه قضا کيږی. اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ فلمونه او ډرامې به نه ګورم. اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ سندرې اوسازونه به نه اورم. اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ ګيره به نه خرووم. اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ د يوموټی نه به ئې نه کمووم اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ.

## دَ دَعوتِ اسلامی مدنی بهار(سپرلې)

تاسو ټول دَ دَعوتِ اسلامی دَ مدنی ماحول سره تړون اوکړئ، د عاشقانِ رسول په مدنی قافِلو کښې دَ ثواب په نيّت دَ سنّتو دَ تربيّت دپاره سفر او هره ورځ دَ فکرِمدينه په ذريعه د مدنی انعاماتو رساله ډکولو او دَ هری مياشتې په ړومبو لسو ورځو کښې دننه دَ خپل ځائ ذمه دار ته د جَمع کولو عادت جوړکړئ. اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ په دواړو جهانونو کښې به هم بيړه پورې اوځي! راځئ چه ستاسو د ترغيب او خواهش پيدا کولو دَ پاره يو مدنی بهار واورو: اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ ستاسو زړونه به هم دَ خوشحالئ نه په سينو کښې ټوپونه اووهی اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ سينه به مو باغِ مدينه جوړه شي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيا مت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

# د محمّداحسان عطّاری لاش

دَ باب المدينه كراچۍ د ګلبهار د علاقې ماډرن (يعنی شو شاكولو والا) ځوان محمداحسان دَ دعوتِ اسلامی دَ مدنی ماحول سره ترون اوكړو او دسګِ مدينه عُفِیَ عَنۡهُ په ذريعه د غوث پاک رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ مريد جوړ شو. دسركارِ غوثِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ مريد څه جوړ شو چه دَ هغوئ په ژوند كښې مدنی انقِلاب راغلو. دَ هغوئ مخ دَ يو موټې ګيرې په ذريعه مدنی مخ جوړ شو. او مستقِل ئې دَ شنې شنې عمامې شريفِ تاج په سر كول شروع كړل. هغوئ د دعوتِ اسلامی په مدرسة المدينه بالغان كښې قرآنِ مجيد په ناظره سره ختم كړلو او په خلقو كښې ئې دنيكۍ دعوت عام كول او انفِرادی كوشش كول شروع كړل. يوه ورځ ناڅاپه هغوئ ته په مرۍ كښې درد محسوس شو، علاج ئې هم كولو خو ورځ په ورځ ئې دَ مرۍ مرض زياتيدلو تر دې چه مرګ ته نِزدې شو، هم په دې حالت كښې هغوئ د سګِ مدينه عُفِیَ عَنۡهُ مدنی وصيت نامه چه دَ مكتبة المدينه نه هديةً ميلاويږي، هغه ئې مخې ته كيښوده او خپله وصيت نامه ئې په چا تياره كړه او د دعوتِ اسلامی علاقائي ذمه دار ته ئې حواله كړه او بيا ئې دَ هميشه دپاره سترګې پټې كړې. دَ وفات كيدو په وخت د هغوئ عمر تقريباً 35 كاله وو، هغوئ د ګلبهار په مقبره كښې خاورو ته اوسپارلې شو. د

وصيت مطابق د هغوئ د قبر سره زيات و کم دولس ګينټو پورې اسلامی وروڼړو "اجتِماعِ ذکر و نعت" جاري اوساتله. د وفات نه تقريباً درې نيم کاله پس د نهې (يعنی سِه شنبې) په ورځ، ٦ جُمادَی الأُخریٰ١٤١٨ هجری (7.10.97) د يو بل اسلامی ورور محمد عثمان عطاری جنازه هم هغه مقبرې ته راوړې شوه، څه اسلامی وروڼړه دَ محمد احسان عطاری عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْبَارِی قبر ته د فاتِحې لوستلو د پاره ورغلل، چه هغوئ دا منظر اوليدو نو دَ حيرانتيا نه دَ هغوئ سترګې غړيدلې پاتې شوې چه دقبر يو طرف کښې ډيرغټ چاؤ شوې دې او تقريباً درې نيم کاله مخکښې وفات شوې مرحوم محمّد احسان عطّاری دَشنې شنې عمامې تاج په سرکړې، خوشبودار کفن اغوستې دَ مزې سره پروت دې. په دغه وخت کښې دا خبر هر طرف ته خور شو او د شپې ناوخته پورې خلق د محمّد احسان عطّاری عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْبَارِی د تازه وجود دَ زيارت (يعني دَ ليدلو) دَ پاره راروان وو. دَ تبليغِ قرآن وسنّت عالمګير غيرسياسی تحريک دعوتِ اسلامی په باره کښې د غلط فهمئ ښکار (يعنی په وسوسو کښې پراته) ځيني خلقو هم په دعوتِ اسلامی والؤ باندې د الله عَزَّوَجَلَّ دا عظيم فضل او کرم په ښکاره سترګو اوليدو او ستائِنه اوآفرين ئې او وئيل او دَ دعوتِ اسلامی سره محبت کولو والا جوړشو.

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي۔ (ابن عدي)

*جو اپنی زندگی میں سنّتیں اُن کی سجاتے ہیں*
*خدا و مصطفٰی اپنا انہیں پیارا بناتے ہیں*

ثوک چه په خپل ژوند کښې په سنّتو عمل کوي، الله عَزَّوَجَلَّ
او مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم به په هغه باندې خپل کرم کوی

# شهیدِ دعوتِ اسلامی

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** داڅه تازه واقِعه نه ده شائِد تاسوته به ياد وی چه په 25 رجب المُرَجَّب 1416 ھ په لاهورکښې د سنّتو دَ ادنٰی خادم سگِ مدينه عُفِیَ عَنْهُ دشهيد کولو د کوشش په نتيجه کښې دَ دعوتِ اسلامی دوه مبلِّغين حاجی اُحُد رضا عطّاری اومحمّد سجّاد عطّاری رَحِمَهُمَا اللّٰہُ البَارِی شهيد شوي وو. تقريباً اته مياشتی پس په مرکزالاولياء (لاهور) کښې د سخت بارانونو په نتيجه کښې د شهيدِ دعوتِ اسلامی حاجی اُحُد رضا عطّاری عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ البَارِی قبر وران شوې وو، چه کله مجبوراً قبر اوسپړدلې شو نو د هغوئ وجود تر و تازه را اوختو او دَ ډيرو خلقو په موجودګئ کښې شهيدِ دعوتِ اسلامی بل قبرته منتقِل کړې شو. په آخِره کښې زما تمام اسلامی ورونړو او اسلامی خويندو ته مدنی عرض دې چه د دعوتِ اسلامی مدنی ماحول سره هر وخت وابسته اوسئ، په دعوتِ اسلامی کښې د هيڅ قِسم ممبر

شِپ نشته، تاسو په خپل ځائ کښې کيدو والا دَ دعوت اسلامی په هفته وار سنّتو نه ډکه اجتماع کښې په پابندئ سره شرکت او د سنّتو د تربيّت په مدنی قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره سفرکوئ، ټولو له پکار دي چه په خپله خپله شعبه کښې د سنّتو مدنی ګلونه تقسيم کړي او د نيکئ دعوت عام کړي.

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** دَ بيان په اخيره کښې د سنّتو فضيلت او يوڅو سنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ نبوّت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چه زما د سنّت سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چه زما سره محبّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. (ابنِ عساکر ج9 ص343)

سینہ تیری سنّت کا مدینہ بنے آقا
جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

**زما سينه دِ ستاسو د سنّت مدينه جوړه شي، آقا ﷺ**
**په جنّت کښې ما تاسو خپل ګاونډي جوړ کړئ**

صَلُّوا عَلَی الحَبِیب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله درود شریف اولوستل دهغه د دوه سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کنزالعمال)

"**د ماشوم عقیقه کول سنت مبارکه دي**" دپینځه ویشت حرفونو په نسبت سره

# دعقیقې25 مدنی ګلونه

◉ فرمانِ مصطفیٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: **هلک په خپله عقیقه کښې ګانړه دې، په اوومه ورځ دې دَ هغه دَ طرف نه څاروې حلال کړې شي او دَ هغه نوم دِ کیښودې شی او سر دِ ئې اوخرولې شی.** (ترمِذی ج3 ص177 حدیث1527) د ګانړه کیدو مطلب دادې چه دَ هغه نه پوره نفع (یعنې فائِده) نه حاصلیږی چه ترڅو پورې د هغه عقیقه اونکړې شي او بعضو (محدِثینو) وئیلي دي چه د ماشوم سلامتیا او د هغه غټیدل او په هغه کښې ښه اوصاف (صفتونه) پیدا کیدل په عقیقه پورې تړلي دي. (بهارِشریعت ج 3ص354) ◉ د ماشوم پیداکیدو په شکر کښې څاروي حلالولو ته عقیقه وائي. (ایضاًص355) ◉ چه کله ماشوم پیداشی نو مستحب دادي چه د هغه په غوږ کښې اذان اواقامت اووئیلې شي.د اذان وئیلوسره به اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ مصیبتونه لرې شي. ◉ غوره داده چه په ښي غوږ کښې ورته څلورځله اذان اووئیلې شي او په ګڅ غوږ کښې ورته درې ځله اِقامت اووئیلې شي. (بهارشریعت ج3ص355) .◉ په ډیرو خلقوکښې دا رواج دې چه هلک پیداشي نو اذان ورته کوي او چه جینئ پیداشي نو اذان ورته نه کوي، داسې کول نه دي پکار، که جینئ پیدا شي نو هم اذان او اقامت دِ ورته اوکړې شي.◉ په اوومه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره درود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

ورځ دِ دَ هغه نوم کيښودې شي او د هغه سر دې اوخرولې شي او دَ سرخرولو په وخت کښې دِ ې عقيقه اوکړې شي. او ويښته دې وزن کړې شي او د هغې د وزن برابر سپين زر يا سره زر دې صدقه کړې شي (ايضاً 355) ◉ دَ هلک په عقيقه کښې دِ دوه چيلي (سيرلی) او د جينئ په عقيقه کښې دِ يوه بِزه ذبح کړې شي يعنی په هلک کښې چيلي اوپه جينئ کښې بزه مناسب ده. اوکه دَ هلک په عقيقه کښې بِزه او د جينئ په عقيقه کښې چيلې وي نو هم څه باك نشته. (ايضاً ص357) ◉ که (دځوئ د پاره د دوو) استطاعت (يعنی طاقت) نه وی نو يو هم کافی دې. (فتاوٰی رَضَوِيّه ج20 ص586) ◉ دَ قربانئ په اوښ وغيره کښې د عقيقې حصه کيدې شي. ◉ عقيقه فرض يا واجِب نه ده صرف سنّتِ مستَحَبَّه (مُسْ-تَ-حَبْ-بَهْ) ده. (که ګنجائِش وي نو ضرور کول پکاردي. که اوئې نه کړې نوګناه نشته خو دَ عقيقې دَثواب نه محروميدل دي) غريب سړي له په هيڅ شان جائِز نه دي چه په سود قرضه راواخلي او عقيقه پرې ا وکړي (اسلامی زندگی ص27) ◉ ماشوم که د اوومې ورځې نه مخکښې مړ شو نو دَ هغه عقيقه نه کولو نه دَ هغه په شفاعت وغيره هيڅ اثر نه پريوځي ولې چه هغه د اوومی ورځې نه مخکښې لا ړو. خو که په کوم ماشوم دَ عقيقې وخت راغلو يعنی دَ 7 ورځو شو او بې عذره دَ وَس (طاقت) باوجود دَ هغه عقيقه اونه کړې

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندي دَ درود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو دَپاره پاكي ده. (ابو يعلىٰ)

شوه دَ هغه د پاره دا راغلي دي چه هغه به دَ مور او پلار شفاعت اونه كړې شي. (فتاوٰی رَضَوِيَّه ج20 ص596) ◉ عقيقه د وِلادت (يعنى د پيدائِش) په اوومه ورځ سنَّت ده او هم دا افضل ده، كه نه وى نو په څوارلسمه،كه نه وي نو په يو و يشتمه. (ايضاً ص586) ◉ او كه په اوومه ورځ ئې نه شئ كولې نو چه كله غواړئ كولې ئې شئ، سنَّت به ادا شي.(بهارِشريعت ج3 ص356) ◉ د چاعقيقه چه نه وي شوي هغه په ځوانئ او بوډا والي كښې هم خپله عقيقه كولې شي. (فتاوٰی رَضَوِيَّه ج 20 ص588) ◉څنګه چه رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ اعلانِ نُبُوَّت نه پس پخپله خپله عقيقه اوكړه (مصنَّف عبدالرَّزّاق ج 4 ص 254 حديث 2174) ◉ بعض (علمائے كرام) دا وئيلي دي چه په اوومه، څوارلسمه، يا يو ويشتمه ورځ يعنې د 7 ورځو لحاظ دِ اوساتلې شي دابهتره ده اوكه ياد نه وى نو داسې دې اوكړى چه په كومه ورځ ماشوم پيدا شوې وو هغه ورځ دِ ياده اوساتي د هغې نه يوه ورځ مخكښې ورځ به اوومه وي، مثلاً دَ جُمَعې په ورځ پيدا شوې وو نو زيارت به دَهغه اووه مه ورځ وى. (بهارِشريعت ج 3ص356) اوكه دَ پيدا كيدو ورځ درته ياده نه وي نو چه كله غواړئ اوكړئ. ◉ دَماشوم سرچه اوخَرَوَلې شي نو ميده شوي زعفران ورته په سر لګول ښه دي. (ايضاً357) ◉ غوره دا ده چه د عقيقې دَ څاروي هډوكي مات نه كړې شي بلكه دَ هډوكو نه دِ غوښه

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله درود پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طبراني)

لرې کړې شي، دا د ماشوم دَ سلامتيا نيک فال دې او که په غوښه جوړولو کښې هډوکي مات کړې شي نو په دې کښې څه باک نشته. غوښه چه څنګه غواړئ پخولې شئ، خو که خوږه پخه کړې شي نو دَ ماشوم دَ اخلاق ښه کيدو فال دې. (ايضاً) د خوږې غوښې پخولو دوه طريقې دي: (1) يو کِلو غوښه، نيم کلو خواږه ماسته، 7دانې واړه لاچی، 50 ګرام بادام، دَ ضرورت مطابق غوړي يا تيل، ټول ميلاؤ کړئ او پاخه ئې کړئ، د پخيدو نه پس په کښې دَ ضرورت مطابق چاشنی (خواږه) واچوئ. دَ زينت (ښائِست) دپاره په کښې دَ ګازرو نرئ نرئ کټ کړې ټکړې او اوڅکې وغيره په کښې هم اچولې شئ. (2) په يو کِلو غوښه کښې نيم کِلو چقندر واچوئ او دَ معمول مطابِق ئې پخه کړئ. ◉ په عوامو کښې داخبره ډيره مشهوره ده چه دَ عقيقې غوښه دِ دَ ماشوم مور، پلار او نيا، نيکه نه خوری، دا بالکل غلط دي، د دې هيڅ ثبوت نشته. (ايضاً) ◉ دَ دې دَ څرمن هم هغه حکم دې کوم چه د قربانئ دَ څرمن دې چه که په خپل استعمال کښې ئې راولي، يا ئې مسکينانو له ورکړي يا ئې په بل څه نيک کار جمات يا مدرسه کښې اولګوي. (ايضاً) ◉ د عقيقې خاروې هم دَ هغه شرطونو سره پکاردې کوم چه دَ قربانئ دَ پاره وي، د دې غوښه که په فقيرانو او په خپلو خپلوانو، دوست احباب باندې کچه تقسيم کړې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مسلم)

شی يا پخه ورکړې شي يا په هغوئ دَ دعوت، ميلمستيا په طور اوخوړې شي دا ټول صورتونه جائز دي. (بهارِشريعت ج3 ص357) ◉ (دَعقيقې غوښه) قارغانو، مارغانو باندې خوړل هيڅ معنٰی (يعنی ثواب) نه لري، دا (قارغان، مارغان) فاسِق دی. (فتٰوی رَضَوِيَّه ج20 ص590) ◉ عقيقه شُکرِ وِلادت (يعنی دپيدائِش شکر) دې، په دې وجه دَ مرګ نه پس عقيقه نه شی کيدې. ◉ دَ هلک په عقيقه کښې که پلار ئې ذبح کوي نو **دُعا** دې داسې اولولي:

**اَللّٰهُمَّ هٰذِهٖ عَقِيۡقَةُ ابۡنِيۡ فُلَانٍ دَمُهَا بِدَمِهٖ وَلَحۡمُهَا بِلَحۡمِهٖ وَعَظۡمُهَا بِعَظۡمِهٖ وَجِلۡدُهَا بِجِلۡدِهٖ وَشَعۡرُهَا بِشَعۡرِهٖ ط اَللّٰهُمَّ اجۡعَلۡهَا فِدَآءً لِّابۡنِيۡ مِنَ النَّارِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَکۡبَرُ**[1]۔

دَفُلَانٍ په ځائ دي دَ **ماشوم** چه کوم نوم وي هغه يادکړي، که **لور** وي نو دواړه ځائيونو کښې دِ دَ اِبۡنِیۡ په ځائ بِنۡتِی اوپيئنځه واړه ځائيونه دِ ۂُ په ځائ هَا اوواېئ- اوکه بل څوک ئې ذبح کوي نو دواړه ځائ دِ د اِبۡنِی فُلَانٍ يا بِنۡتِی فُلَانٍ په ځائ فُلَانُ اِبۡنُ فُلَانٍ يا فُلَانَةُ بِنۡتُ فلانةٍ اووائي، د هلک دې د پلار طرف ته او د جينئ دې د مور طرف ته نسبت اوکړي. (ملخص از فتٰوی

---

1 ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ! دا زما دَ پلانی ځوئ عقيقه ده، دَ دې وِينه دَ هغه دَ وِيني،دَ دې غوښه دَ هغه دَ غوښې، د دې هډوکې دَهغه د هډوکي، د دې څرمن دَ هغه دَڅرمني او دَ دې ويښته دَ هغه دَ ويښتو په بدله کښې دي، اے الله عَزَّوَجَلَّ! دا زما دَ ځوئ د پاره دَجهنّم د اور نه فِديه جوړه کړه، د الله په نامه، الله دټولونه لوئ دې.

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

رَضَوِیَّه ج20 ص585) ◉ که دُعا ورته یاده نه وي نو په زړه کښې دِ دا خیال اوکړي چه دَ هغه هلک یا دَ هغه جینئ عقیقه ده، بِسْمِ اللہِ اَللہُ اَکْبَر دې اولولي او ذبح دې ئې کړي، عقیقه به اوشي، دَ عقیقې دپاره دُعا لوستل ضروري نه دي. (جنّتی زیور ص323) ◉ نن صبا دَ عقیقې دَپاره دَ دعوت اهتمام (انتِظام) کیږي او هغې کښې عزیزان، اقربا رابللې شی دا ښه عمل دې او شرکت کولو والا دَ ماشوم د پاره تحفه راوړي داهم ښه کار دې. البته په دې کښې څه تفصیل شته: که چرې میلمه تحفه را نه وړي نوکله کوربه او دَ هغه دَ کور ګسان په میلمه پسې دَ سپکو وئیلو په ګناه کښې اخته کیږي، نو چه کوم ځائ یقینی طور یا په ظنِّ غالِب (یعنی په غالب ګمان) سره داسې صورتِ حال وی نو میلمه له پکار دی چه بغیر د مجبورئ نه دِ نه ورځی، که ضرورتاً لاړ شي او تحفه یوسي نوڅه باك نشته، البتّه که کوربه په دې نیّت تحفه واغسته که چرې دې میلمه تحفه نه وې راوړې نو کوربه به په هغه (میلمه) پورې سپکې وئیلې یا خو ئې خاص دا نیّت نه دې خو د دې (کوربه) داسې بدمعمول (یعنی بدعادت) شته که چرې د ده (یعنی دکوربه) دا غالِب ګمان وی چه دا (تحفه) راوړو والا هم په دې وجه (یعنی دکوربه) دَشر نه دَ بچ کیدو دَ پاره (تحفه) راوړې ده نو اوس د اغستلو والا کوربه ګناه ګار او دَ اور دَ عذاب حقدار دې او دا تحفه دَ

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

هغه په حق کښې رِشوت دې. خو که د سپک وئيلو نيّت ئې نه وي اونه د ده داسې بد عادت وي نو بيا په تحفه قبلولو کښې څه باك نشته.

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو دَپاره دَ مکتبة المدينه دوه کتابونه (۱) د 312 پاڼو کتاب "**بهارِشريعت**" حصّه 16 او (2) د 120 پاڼو کتاب "**سنّتيں اور آداب**" هديةً واخلئ او اولولئ. د سنّتونو د تربيّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامی په مدنی قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو نه ډک سفر هم دې.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو — سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو — ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

دَ رحمتونو ګټلو د پاره په قافلو کښې لاړشئ
دَ سنّتونو زده کولو دَپاره په قافلو کښې لاړشئ
مشکلات به هم حل شي په قافلو کښې لاړشئ
مصيبتونه به هم ختم شی په قافلو کښې لاړشئ

صَلُّوا عَلَى الحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**دا رساله اولولئ او بل ته ئې ورکړئ**

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د ميلاد په جلوسونو وغيره کښې د مکتبةُ المدينه نه شائع شوې رسالې او د مدني ګلونو پرچئ تقسيم کړئ او ثواب اوګټئ، خپلو ګاکونو ته په تحفه کښې ورکولو د پاره په خپلو دوکانونو کښې هم د رسالو ايښودلو عادت جوړکړئ، د اخبار خرڅونکو يا د ماشومانو په ذريعه په خپل چم ګاونډ کښې کور په کور وقفه په وقفه کله يوه کله بله د سنّتو نه ډکې رسالې رسَوَلو په ذريعه د نيکئ دعوت عام کړئ او ډير ثوابونه اوګټئ.

فرمانِ مُصطفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاویږي۔ (مجمع الزوائد)

# فهرست


| | | | |
|---|---|---|---|
| دَ دُرُود شریف فضیلت | 1 | په سترګواوغوږونوکښې میخونه | 14 |
| دَ غفلت اسباب | 3 | په سترګوکښې وِیلې کړې شوې سیکه | 15 |
| د مړی ژړیدل بې کاره دي | 4 | د اور عبادت کوونکو په شان مخ | 17 |
| عجیبه پښیماني | 7 | خوک دِ د چا نه پرده کوی؟ | 18 |
| په ژړا ژړا به دوزخ ته داخلیږی | 8 | د ناجائزه فیشن کوونکو انجام | 18 |
| که چرې ایمان هم برباد شونوبیا..... | 9 | قضاعُمری اوکړئ | 19 |
| دَمرګ درې قاصدان | 10 | اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ | 20 |
| بیماری هم دَ مرګ قاصددې | 11 | دَ دَعوتِ اسلامی مدنی بهار(سپرلې) | 20 |
| د جهنّم په دروازه باندِ نوم | 13 | د محمّداحسان عطّاری لاش | 21 |
| په سترګوکښې اور | 13 | شهیدِ دعوتِ اسلامی | 23 |
| د اور سلائي | 14 | دعقیقې25 مدنی ګلونه | 25 |


# ماخذ ومراجع


| کتاب | مطبوعہ | کتاب | مطبوعہ |
|---|---|---|---|
| ترمذی | دارالفکر بیروت | ابن عساکر | دارالفکر بیروت |
| مسند امام احمد | دارالفکر بیروت | ہدایہ | داراحیاء التراث العربی بیروت |
| مسلم | دارابن حزم بیروت | فتاوٰی رضویہ | رضا فاؤنڈیشن مرکز الاولیاء لاہور |
| مُصنّف عبدالرزاق | دارالکتب العلمیہ | بہارِ شریعت | مکتبۃ المدینہ باب المدینہ کراچی |
| معجم کبیر | داراحیاء التراث العربی بیروت | مکاشفۃ القلوب | دارالکتب العلمیہ |
| فردوس الاخبار | دارالکتاب العربی بیروت | بحرالدموع | مکتبۃ دارالفجر |
| حلیۃ الاولیاء | دارالکتب العلمیہ | اسلامی زندگی | مکتبۃ المدینہ باب المدینہ کراچی |
| تاریخِ بغداد | دارالکتب العلمیہ | جنّتی زیور | مکتبۃ المدینہ باب المدینہ کراچی |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د سنتو سپرلي

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبليغ قرآن و سنت عالمګيرغيرسياسي تحريک دعوت اسلامي په خوشبودارمدني ماحول کښې په کثرت سره سنتونه زده کيږي او ښودلې شي، هره پنجشنبه (يعنې زيارت) د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کيدونکي د دعوت اسلامي په هفته واره اجتماع کښې د ټوله شپه تيرولومدني عرض دې، د عاشقانِ رسول سره په مدني قافلو کښې سفره او هره ورځ د "فکرِمدينه" په ذريعه د مدني انعاماتو رساله ډکولو او د خپل ځائ ذمه دارته د جمع کولو عادت جوړ کړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې په برکت سره به دسنتو د پابند جوړيدو، د ګناهونو نه د نفرت کولو او د ايمان د حفاظت دپاره د سوچ او فکر ذهن جوړيږي. هراسلامي وروور دې خپل دا ذهن جوړکړي چه "ماته د خپل ځان او د ټولې دنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خپل ځان د اصلاح د کوشش کولو د پاره په "مدني انعاماتو" عمل او دټولې دنيا د اصلاح د کوشش د پاره په "مدني قافلو" کښې سفرکول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ





ISBN 978-969-631-424-0
0125133

فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)
UAN: +923 111 25 26 92 Ext: 1262
Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net